# پهٔ هٔغه مُسکا پهٔ عادت دې پهٔ

# لکونو سلامونه وي



**01-October- 2026**

هفته وار د سنّتونو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنّتونو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پۀ وړومبي اکتوبر، کال 2026ء (بمطابق: 18 ربیع الآخر، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# پۀ هٰغه مُسکا پۀ عادت دې پۀ لکونو سلامونه وي

(د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُسکا او د مُسکي کېدو د فضیلتونو او فائدو بیان)

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- --- اصلي حُسن څۀ شے دے....؟
- --- د ټولو نه زیات مسکے کېدونکے
- --- ډیر روڼ تندے ،ډیره مینه
- --- د مسکا یو څو اهمې موقعې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه فرمائي: چي يوه ورځ د سحر په وخت کښې د الله پاک اخري نبي مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوراني مخ مبارک باندې د خوشحالۍ نخښې وې، صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم يې ترينه د وجې پوښتنه وکړه.نو ويې فرمائيل: چي الله پاک پيغام راليږلے دے:چي اے محبوبه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!ستاسو کوم امتي چي په تاسو باندې يوه ځل درود شريف ووائي،زۀ به د هغۀ دپاره 10نيکۍ ليکم ،د هغۀ به 10 ګناهونه معاف کووم،10درجې به يې اوچتوم او هم دومره رحمتونه به پرې نازلوم۔(1)

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے (2)

وضاحت: هغه خوږ آقا، مکی مدنی مصطفے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چاته چي د بے اسرې خلقو اسره وئيلے شي ،څوک چي د بے خبرو، خبر لرونکے دے ،په هغوي دې درود او سلام وي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1...مُسْنَدِ اَحمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

## د بيان اورېدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اورېدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښېنم ❀ ښه پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## اصلي حُسن څهٔ دے---؟

مشهور مُحَدِّث حضرت اِمام احمد بن حنبل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليکلي دي: يو ځل د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تره حضرت عباس بن عبد المُطلب رَضِيَ اللهُ عَنۡهُما ښکلې جامې واغوستې، رنګ مبارک يې هسې هم سور سپين وو، هغوئ پهٔ هغه ښکلو جامو کښې ډېر ښکلے ښکاريدو، پهٔ داسې حالت کښې هغوئ دربار رسالت ته حاضر شول، نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې خپل تره وليدو نو د محبت پهٔ وجه مُسکے شو!

حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ عرض اوکړو:

مَا اَضۡحَکَکَ يَا رَسُوۡلَ اللهِ؟ اَضۡحَکَ اللهُ سِنَّکَ!

**ترجمه:** يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم الله پاک دې تاسو مُسکے لري، تاسو ولې مُسکے شوئ؟

وه يې فرمائيل:

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

اَعۡجَبَنِیۡ جَمَالُكَ یَا عَمَّ النَّبِیِّ

ترجمه: اے د نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کاکا جانه! زما ستاسو حُسن او جمال ډېر خوښ شو، پهٔ دي باندي مُسکے شوم۔

حضرت عباس بن عبد المُطلب رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د نارینه اصلي حُسن څهٔ دے؟ وه یے فرمائیل: اَللِّسَانُ یعني د اِنسان حقیقي حُسن د هغه ژبه ده۔ (1)

ہر ادا دِل نشیں بنی تیری
ہر سخن جاں فِزا ہوا تیرا
اے چمن بھیک ہے تبسم کی
غنچہ غنچہ کھلا ہوا تیرا

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د زدکړي دوه خبرې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! روایت کوم چي مونږ واورېدو، پهٔ دي کښي زمونږ د پاره د زدکړي دوه خبرې دي:

### (1): اصلي حُسن ژبه ده

وړومبئ خبره خو دا د زدکړي د پاره میلاؤېږي چي اصلي حُسن: ❀ رنګ څهره ❀ د ګرځېدو انداز ❀ د بدن جوړښت ❀ د مخ خدوخال ❀ مال او دولت ❀ ګرانو جامو ❀ د ویښتو فېنسي سټائل کښي نهٔ دے بلکي خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د اِنسان اصلي حُسن د هغه پهٔ ژبه کښي دے۔

خبره بالکل رښتیا ده او زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبره خو هډو غلطه کېدے نهٔ

1...فضائل الصحابه لابن حنبل، جز:2، صفحه:917، حديث:1755۔

شي- رښتيا خبره ده چې حُسن پهٔ ژبه کښې وي، که اِنسان پهٔ شکل ښکلے هم نهٔ وي خو چې ژبه يــې خوږه وي نو خلق پهٔ هغه عاشقان کيږي، اِنسان که هر څومره ښکلے وي، که هر څومره هم ❁ مالداره وي ❁ د پيسو والا وي ❁ قيمتي کاڼړے ❁ قيمتي جامې ❁ د فېنسي سټائل والا(*Fancy Hair style*)، هر څهٔ وي، که ژبه يــې ترخه وي نو د چا هم خوښ نهٔ وي، خلق د هغه نه لرې تښتي- د هغه د پيسو پهٔ وجه، د هغه د عهدې او د منصب پهٔ وجه که ورنزدې کيږي نو هم پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې ورته بد وائي او بد يــې ګڼي-

## حضرت لُقمانِ حکيم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه او خوږه ژبه

د حضرت لُقمانِ حَکيم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نوم خو به تاسو اورېدلے وي، پهٔ مخکښينو اُمتونو کښې وو، د حبشې اوسېدونکے وو، رنګ يــې پهٔ ظاهره تور وو، شونډې يــې پيړې وې خو الله پاک ورته ژبه خوږه عطا کړې وه- داسې مبارکه ژبه چې د هغې نه به د حِکمت ملغلرې دوړېدلې-(1) الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې د هغوئي پهٔ نوم باندې يو پوره سُورت نازل کړو- سُورۀ لُقمان پهٔ 21 سيپاره کښې دے، اِرشاد دے:

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا لُقۡمٰنَ الۡحِكۡمَةَ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه مونږ لُقمان ته حِکمت عطا کړو-

(پارہ:21، سورۂ لُقمٰن:12)

وګورئ چې پهٔ ظاهره باندې يــې رنګ مبارک سپين سور نهٔ وو خو ژبه يــې خوږه وه- خلق به د هغوئي د حِکمت نه د ډکو خبرو اورېدو د پاره د هغوئي خوا ته راتلل- خوږ آقا و مولا،

---

1... الخطب و المواعظ للهروی، صفحه:174، رقم:104103 ملتقطاً۔

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:د سوډان(یعني حبشه) پهٔ خلقو کښې درې کسان ډیر بهترین دي: (1):حضرت لُقْمان حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ- (2):حضرت بلال حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ (3): او د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم غلام مِهْجَع رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ـ [1]

سُبْحٰنَ الله! څنګه شان دے..!! الله پاک د حکمت او خوږه ژبه ورعطا کړه! نو څنګه مرتبه یې نصیب شوه-

## د ټولو نه بهترین اندامونه

د حضرت لُقمانِ حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ژوند مبارک څهٔ موده پهٔ غلامۍ کښې تیره شوه، یو ځل د هغوئي دُنیائي آقا هغوئي ته ووئیل: چیلۍ ذبح کړه او د هغې دوه د ټولو نه بهترینې حصې راوړه- هغوئي چیلۍ ذبح کړه او د هغې ژبه او زړهٔ یې راوړو- څو ورځې پس آقا بیا ووئیل: چیلۍ ذبح کړه او د هغې د ټولو دوه بد ترینې حصې راوړه، حضرت لُقمانِ حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بیا چیلۍ ذبح کړه او بیا یې ژبه او زړهٔ راوړل، آقا د دې د وجهې پوښتنه اوکړه (چې وړومبے مې درته د بهترینې حصې راوړو ووئیل نو تاسو بیا هم ژبه او زړهٔ راوړو، اوس مې درته د بد ترینو حصو راوړو ووئیل، اوس هم تاسو ژبه او زړهٔ راوړو، د دې وجه څهٔ ده؟) پهٔ دې باندې حضرت لُقمانِ حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ وفرمائیل: که چرې ژبه او زړهٔ صحیح وي نو دا د ټولو نه بهتر دي او که چرې دا خراب شي نو د دې نه زیات بل هیڅ خیز بد نشته- [2]

| دِل ہی ڈبوئے، دِل ہی ترائے | دِل سا دوست نہ دِل سا دُشمن |
|---|---|

1...مستدرک للحاکم، جلد:4، صفحه:329، حدیث:5293ـ

2...الزہد لابن حنبل، صفحه:7776، رقم:271ـ

معلومه شوه چې حُسن د زړۀ دے او د ژبې دے- لهٰذا چې شکل او صورت اللہ پاک هر خنګه عطا کړے دے، هغه بهترين دے، نن سبا دلته ځوانان د ګمنځې او شيشې نه نۀ وزګارېږي، د جينټس بيوټي پالرې جوړې شوې دي، د زرګونو روپو پۀ لګولو نارينه قسمه قسم ميک اپونه کوي، د ويښتو پۀ سټائل باندې پۀ زرګونو روپۍ لګولے شي، د باډۍ جوړولو د پاره جِم ته ځي او پته نۀ لګي چې هلکان څۀ څۀ کوي--!! خو افسوس چې ژبه کومه چې د اِنسان اصلي حُسن دے، دې ته توجه نۀ کوي ❀ فحش خبرې پۀ ځوانانو کښې عامې کيږي ❀ ګنده خبرې کوي ❀ کنځلې عام رِواج جوړ شوے دے، د کنځلو نه فيشن جوړ شوے دے، ځينې نادانه چې د خو پورې کنځل نۀ وي کړي نو هغوئي له سکون نۀ ورځي ❀ هم داسې سپکې خبرې کول ❀ سختې خبرې کول ❀ نور خلق رټل ❀ پۀ غصه کښې ګوريدل، ګډې وډې وئيل ❀ سختې لـهجې ❀ سخت انداز ❀ مخ ملاوه نۀ کول ❀ ملنډې دا هر څۀ ډېر عام کيږي-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ژبه اصلي حُسن دے، دې ته خاص پام کول پکار دي- شکل خو چې هر خنګه دے هم هغه دے او ډېر ښکلے دے، اللہ پاک اِنسان ډېر ښکلے جوړ کړے دے، اِرشاد دے:

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۟

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: يقيناً مونږه اِنسان د ټولو نه په ښه شکل کښې پيدا کړو-

(پاره:30، سورۂ اَلتِّيْن:4)

لهٰذا ظاهري شکل د هر چا ښکلے دے- پۀ خپله ژبه کښې د حُسن پيدا کولو کوشش

اوکړئ! ❀ خوږې خبرې کوئ! ❀ ښې خبرې کوئ! ❀ پهٔ تهذيب کښې دننه اوسېږئ!

اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پهٔ دُنيا کښې به مو هم عزت زياتېږي او پهٔ اخرت کښې به مو هم اوچت مقام نصيب کيږي۔

| | |
|---|---|
| فالتو باتوں کی عادت دُور ہو جائے حُضُور! | ہو زباں پر میری اکثر آپ ہی کا ذِکرِ خیر (1) |

## (2): پهٔ مُسکا ملاوېږئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ حديث شريف واورېدو، حضرت عباس بن عبد المُطلب رَضِیَ اللهُ عَنْهما ښکلې جامې واغوستلې، د ښکلې سپين سور مخ ځلېدو سره دربار رسالت ته حاضر شو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مُسکا د هغوئي هر کلے اوکړو۔

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلې ادا ده--! ھٔغه مبارکه مُسکا، ھٔغه ښکلې ښکلې مُسکا--!! واه---!!

| | |
|---|---|
| سر سے پا تک ہر ادا ہے لا جواب | خُوبرُویوں میں نہیں تیرا جواب |
| حُسن ہے بے مثل، صُورت لا جواب | میں فدا تم آپ ہو اپنا جواب ( 2 ) |

دا زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مستقل انداز مبارک وو، د راتلونکي گس به يې پهٔ مُسکا سره هر کلے کولو۔

## همېشه به مُسکے کېدلو

حضرت جَرِير رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي:

مُنْذُ اَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِيْ اِلَّا تَبَسَّمَ

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:233۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:88۔

ترجمه: زۀ چې د کله نه مسلمان شوے يم، محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله هم ما ته کتلي دي، هم پۀ مُسکا يې کتلي دي-

جس کی تسکیں سے روتے ہوئے ہنس پڑیں | اس تبسّم کی عادت پہ لاکھوں سلام (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## لاس يې ونيولو او مُسکے شو!

تابعي بزرګ حضرت ابو داؤد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے، فرمائي: زما د صحابئ رسول حضرت بَرَاء بن عَازِب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د ملاقات سعادت نصيب شو، هغوئي ما ته سلام اوکړو، بيا يې راسره لاس مېلاؤ کړو او مُسکے شو! بيا يې وفرمائيل: خبر يې چې ما داسې ولې اوکړل؟ ما عرض اوکړو: پته راته نشته خو--!!

(اوس زمونږ د بزرګانو د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم پۀ باره کښې ادب ته وګورئ!) عرض يې اوکړو: تاسو داسې ولې اوکړل ما ته معلومه نۀ ده خو (چونکه تاسو صحابي يئ، لهذا) څۀ مو چې کړي دي، هم پۀ دې کښې به خير وي-

سُبْحٰنَ الله!

خيرا! اوس واورئ! حضرت بَرَاء بن عَازِب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسې ولې اوکړل- وه يې فرمائيل: زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د ملاقات سعادت نصيب شو،

ہر صحابیِ نبی! | جنّتی! جنّتی! | سب صحابیات بھی! | جنّتی! جنّتی!
چار یارانِ نبی! | جنّتی! جنّتی! (2)

---

1...بخاری، کتاب الجهاد و السیر، باب من لا یثبت علی الخیل، صفحه: 777، حدیث: 3035۔

2...وسائلِ فردوس، صفحه: 53۔

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم داسې ما ته سلام اوکړو، بيا يــې زما لاس ونيولو او مُسکے شو- بيا يــې وفرمائيل: اے بَرَاء تا ته پته شته چې ما داسې ولې اوکړل؟ ما عرض اوکړو: نشته راته پته - وه يــې فرمائيل: اے بَرَاء!

مَا مِنۡ مُسۡلِمَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ فَيُسَلِّمُ اَحَدُهُمَا عَلٰى صَاحِبِهٖ وَيَأۡخُذُ بِيَدِهٖ،

لَايَأۡخُذُهٗ اِلَّا لِلّٰهِ، فَيَتَفَرَّقَانِ حَتّٰى يُغۡفَرَ لَهُمَا

ترجمه: دوه مسلمانان چې کله د يو بل سره مېلاؤ شي، يو بل ته سلام اوکړي او لاس ونيسي نو د هغوئي د جُدا کېدو نه مخکښې الله پاک هُغه دواړه بخښي- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! يو خو د دې روايت نه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُسکي کېدو انداز مبارک معلوم شو چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ملاقات پهٔ وخت سلام فرمائيلو، لاس به يــې مېلاوهل او د مېلاؤېدو پهٔ وخت به مُسکے کېدلو- دويم: د يوې بلې خبرې طرف ته پام راوګرځووم! د حضرت بَرَاء بن عَازِب رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ پهٔ انداز مبارک باندې غور اوکړئ چې د يو ګس سره يــې ملاقات کيږي ❀ اِجتماع نهٔ ده ❀ د جُمعې خطبه نهٔ ده ❀ د زده کولو او ښودلو حلقه نهٔ ده لګېدلې ❀ د قرآنِ پاک دَرس ❀ د حديثونو مبارکو دَرس ❀ د سُنّتو مبارکو دَرس نهٔ کيږي، بس ملاقات شوے دے، بس د ملاقات پهٔ کولو کولو هغوئي مخامخ ګس ته سُنَّت هم وښودلو او حديث شريف يــې ورته هم بيان کړو-

---

1...مسند احمد بن حنبل، مسند الکوفيين، جلد:7، صفحه:540، حديث:19052۔

خومره ښکلے انداز دے د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم --!! معلومه شوه چې صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د نیکۍ د دعوت جذبه لرونکي وو، پهٔ هغوئي کښې د نیکۍ د دعوت ورکولو جذبې کور کړے وو، بس چې چرته به هم وو، خپلې خوشبوياني به يې خورولې-

## پهٔ عملي توګه هم سُنَّت زده کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کاش چې مونږ هم دا انداز اِختيار کړو چې د چا سره مېلاوېږو نو پهٔ مېلاوېدو مېلاوېدو کښې ورته سُنَّت بيان کړو ❁ د دوستانو سره د چائے څښلو د پاره کښېنو نو نورې خبرې خو به کيږي، لاس پهٔ لاس ورته دوه سُنَّت هم وښايئ ❁ د پخواني دوست سره ملاقات وشو، مېلاؤ شوئ، مېلمستيا مو اوکړه نو ورسره يو دوه سُنَّت هم وښايئ ❁ پهٔ بس کښې سفر کوئ، غلي ولې کښېنئ، پهٔ خوا کښې ناست مسافر ته درې څلور سُنَّت هم وښايئ ❁ پهٔ رکشه کښې کښېناستئ، که نور څوک نهٔ وي نو هم د رکشې ډرائيور ته سُنَّت زده کړئ- بس چې مونږ هم دا خپل عادت جوړ کړو، چې زمونږ سره څوک مېلاؤ شي نو هم د سُنَّتو خوشبوئي يوسي او لا ړ شي- خالي لا ړ نهٔ شي- اللّٰه پاک فرمائي:

وَيَجۡعَلۡ لَّكُمۡ نُوۡرًا تَمۡشُوۡنَ بِهٖ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغه به ستاسو د پاره يو داسې نُور جوړ کړي چې د هغې پهٔ ذريعه به تاسو ګرځئ- (پاره:27، سورهٔ حَدِيۡد:28)

پهٔ دې آيت مبارک کښې د نُور يوه معنیٰ **د هدايت نُور** هم ده- [1] يعنې اللّٰه پاک خپلو خاص

---

1…تفسير بغوی، پاره:27، سورهٔ حديد، زيرِ آيت:، جلد:1، صفحه:333 خلاصةً-

بندګانو ته داسې نُور عطا کوي چې دوئي چرته ځي، هلته د هدايتونو رڼا خوروي-

## د نېکۍ کُنجياني

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه پهٔ خلقو کښې ځينې هغه دي کوم چې د نېکۍ کُنجياني دي او د بدۍ تالې دي- نور يـې وفرمائيل: بس زيرے دے د هغه کس د پاره د چا پهٔ لاس کښې چې الله پاک د نېکۍ کُنجياني ايښودې دي- (1)

علمائے کرام فرمائي: دا کس کوم چې د نېکۍ کُنجي وي، د دهٔ دا شان دے چې دهٔ ته پهٔ کتلو خلقو ته نېکي ورياديږي، دے چې چرته ځي، د نېکۍ دعوت ورکوي، چې خبرې کوي نو د دهٔ د خُلې نه د نېکۍ خبرې ووځي، سوچ چې کوي نو د نېکي خبرې سوچ کوي، د دهٔ باطِن هم پهٔ نېکۍ باندې وي د دې پورې چې کوم اِنسان د دهٔ سره کښېني، هغه هم نيک جوړيږي- (2)

کاش چې مونږ هم داسې جوړ شو-

مری عادتیں ہوں بہتر بنوں سُنّتوں کا پیکر
مجھے مُتّقی بنانا مَدنی مدینے والے
شہا! ایسا جذبہ پاؤں کہ میں خوب سیکھ جاؤں
تری سُنّتیں سکھانا مَدنی مدینے والے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب          صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...جامِع صغير، صفحه:210، حديث:2465۔

2...فيض القدير، جلد:2، صفحه:528، زيرِ حديث:2465۔

# مُسکي کېدل سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د صحابئ رسول حضرت ابُو دَردَا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عادت مبارک وو چې هره خبره به يې پهٔ مُسکا کوله- د هغوئي نه چې پهٔ دې باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو وه يې فرمائيل: ما د اخلاقو بهترينه نمونه، د الله پاک خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليدلے دے چې هغوئي به د خبرو کولو پهٔ وخت مُسکے کېدلو-

جس کی تسکیں سے روتے ہوئے ہنس پڑیں
اُس تبسّم کی عادت پہ لاکھوں سلام

وضاحت: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې پهٔ خپل ظاهري ژوند مبارک کښې کوم غم زپلي ته پهٔ مُسکا وکتل نو د هغه د زړهٔ غوټۍ به ګُل شوې، اوس چې هم کله د کوم غم زپلي پهٔ خوب کښې يا د کوم غلام قبر ته پهٔ مُسکا تشريف راوړي نو د هغوئي د نا قلاره زړونو تسلي او سکون نصيب کيږي- د داسې سکون ورکوونکي مُسکا پهٔ عادت باندې دې زمونږ د طرف نه پهٔ لکونو سلامونه وي-

## د ټولو نه زيات مُسکے کېدونکے

پهٔ يو روايت کښې دي: صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي:

مَا رَاَيۡتُ اَحَدًا اَكۡثَرَ تَبَسُّمًا مِنۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ

ترجمه: ما د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات مُسکے کېدونکے څوک نهٔ دے ليدلے-[(1)]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! معلومه شوه چې مُسکا سُنَّت ده- محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني

---

1...الزهد لابن مبارک، صفحه:47، حديث:145-

سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډېر مُسکے کېدلو- افسوس چې اوس دلته خلق پهٔ مُسکا کښې هم کنجوسي کوي- بنه....! دا کنجوسي هم پهٔ دوه قِسمه وي: (1): يو خو دا چې د مېلاؤېدو پهٔ وخت نهٔ مُسکي کيږي، ډېر داسې هم وي کومو چې تندے راچولے وي، هډو پهٔ مخ يې مُسکا راضی نهٔ،بعضو خلقو ته چې وګورې نو ښکاري چې ډېر غمژن دے (2): کله چې خاندي نو بيا پهٔ کړس کړس خاندي، د اواز سره پهٔ تق تق خاندي، پهٔ تېزه تېزه خاندي- دواړه طريقې د سُنَّت مطابق نهٔ دي- د الله پاک خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ کړس کړس نهٔ خاندل-

## پهٔ خندا، مسکا، او قهقه کښې فرق

(1): ستاسو صرف غاښونه ښکاره شول- دې ته تَبَسُّم وئيلے شي يعني مُسکي کېدل-

(2): د غاښونو ښکاره کېدو سره دومره اواز راغلو چې تاسو پخپله واورېدو- هغې ته ضِحك وئيلے شي يعني خندا-

(3): پهٔ دومره اواز سره مو وخاندل چې اواز نورو ته هم ورسېدو، دې ته قهقه يعني پهٔ کړس کړس خندا وئيلے شي-[1]

رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم پهٔ کړس کړس نهٔ دي خندلي- کله نا کله بالخصوص چې کله به د اخرت متعلق څهٔ خبره کيدله نو ضِحك فرمائيل ثابت دي، يعني

---

1...فتح الباری، کتاب الادب، باب التبسم و الضحک، جلد:10، صفحه:619۔

پۀ دومره اواز کنبي خاندل چي پخپله د خپلو غوږونو پوري اواز ورسيږي-[1] که داسي به هم کيدل نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ خُله مبارکه باندي لاس اېښودلو-[2] اکثر به يـي تَبَسُّم فرمائيلو-[3]

## ديوالونه به ځليدل

او مُسکا هم ښکلې وه---! پۀ روايت کښي دي: کله چي به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُسکے کيدلو نو د غاښونو مبارکو نه به نُور ځليدو، د کوم سره چي به مخي ته ديوالونه پرقيدل - [4]

سُبْحٰنَ الله!

سوزن گم شده ملتی ہے تبَسُّم سے ترے | شام کو صبح بناتا ہے اجالا تیرا[5]

وضاحت: يعني د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُسکا داسي انوار وروي چي د شپي پۀ تيارۀ کښي به ورکه شوي ستن هم ميلاؤيدله او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوراني مخ رڼا شپه هم پۀ سحر کښي بدلوي-

ما عرض کولو چي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به صرف تَبَسُّم فرمائيلو، مُسکے کيدلو به، اواز به نۀ راتللو او دلته څۀ حالت دے---؟ اَللّٰهُ اَکْبَرْ! اکثر قهقهي لګولے کيږي-

---

1...جمع الوسائل شرح شمائل المحمدیہ، باب ضحک، جز:2، صفحہ:15۔

2...جامع صغیر، صفحہ:412، حدیث:6635۔

3...الزہد لابن مبارک، صفحہ:47، حدیث:145۔

4...کتاب الشفاء، القسم الاول...الخ، الباب الثانی...الخ، فصل فی تفضیل ھذہ...الخ، جز:1، صفحہ:55۔

5...ذوقِ نعت، صفحہ:25۔

## قهقه يعني پهٔ کړس خندا د شيطان د طرف نه ده

قهقه يعني پهٔ کړس خندا ګناه نهٔ ده- خو خوښ عمل هم نهٔ دے- پهٔ حديثِ پاک کښې دي:

اَلْقَهْقَهَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ وَالتَّبَسُّمُ مِنَ اللهِ

ترجمه: قهقه يعني پهٔ کړس خندا د شيطان د طرف نه ده او مُسکا د الله پاک د طرف نه ده- (1)

يعنې پهٔ کړس خندل د شيطان خوښ عمل دے او مُسکا د الله پاک خوښ عمل دے- (2)

اوس تاسو پخپله غور اوکړئ چې يو کار د شيطان خوښ دے او بَل کار د الله پاک خوښ دے- مونږ به کوم يو کار کوو---؟ ظاهره ده چې مونږ مسلمانان يو، مونږ د الله پاک بندګان يو، مونږ به هم د خپل رَبِّ کريم رضا غواړو- ځکه مونږ له قهقه يعني پهٔ کړس کړس خندا نه بچ کېدل پکار دي- مُسکا کوئ! مُسکا کوئ او ښه ډېره مُسکا کوئ-

## پهٔ مُسکا سره مبلاؤېدل صدقه ده

خوږ نبي، ښه نبي، رښتوني نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

وَتَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ اَخِيكَ صَدَقَةٌ

ترجمه: ستاسو د خپل وروور پهٔ مخکښې مُسکي کېدل صدقه ده- (3)

يوه مالي صدقه وي- هغه يوه بېله نېکي ده خو نور ډېر خيزونه هم صدقه ګرځولے شوې دي-

---

1...معجم صغير، صفحه:713، حديث:1057-

2...التنوير شرح جامع صغير، جلد:8، صفحه:113، تحت الحديث:6178 ملتقطاً بتصرف-

3...الادب المفرد، باب من هدى زفافا او طريقا، صفحه:262، حديث:891-

پۀ هغې کښې پۀ مُسکا سره مېلاوېدل هم دي- کله چې مونږ د يو مسلمان وررور سره پۀ مُسکا مېلاوېږو نو الله پاک د صدقې ثواب راعطا کوي-

## د الله پاک خوښ بنده

د الله پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې دوه مسلمانان د يو بل سره مېلاؤ شي، دواړه لاسونه مېلاؤ کړي، يو بل ته سلام اوکړي، پۀ هغوئي کښې چې کوم ډېر د روڼ تندي (مثلاً پۀ مُسکا سره، پۀ روښانه تندي) سره مېلاؤېږي، هغه د الله پاک د ټولو نه خوښ دے-

نور فرمائي: پۀ هغوئي باندې د الله پاک 100 رحمتونه نازلېږي، پۀ هغې کښې 90 د هغه چا د پاره دي، کوم چې وړومبے سلام اوکړو او 10 رحمتونه د جواب ورکوونکي د پاره دي-
(1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ سلام کښې وړومبے والے کول سُنَّت دي،(2) يعني ورمخکښې کېدل او وړومبے اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ وئيل، دا هم سُنَّت طريقه ده- ځکه چې بَل کَس زمونږ نه سلام واخلي د دې اِنتظار نۀ دې کول پکار، څنګه چې موقع مېلاؤ شي، وړومبے کېدل او مخکښې د سلام کولو کوشش کول پکار دي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډېرې نيکۍ او ډېر رحمتونه به مو نصيب کيږي- نور دا چې د زړۀ د ډېرې خوشحالۍ سره،

---

1...موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب مدارة الناس، باب المدارة بطلاقة...الخ، جلد:7، صفحه:530، حديث:65-

2...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:1100، حصه:19 (ضميمه)-

د ډېر وروڼ، روښانه مُسکي مخ سره د مېلاوېدو عادت جوړ کړئ! که الله پاک وغوښتل نو د الله پاک د محبوب جوړېدو سعادت به نصيب شي-

## ډېره خوشحالي، ډېر محبت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د الله پاک نبي حضرت يحیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نه ډېر زيات وېرېدلو والا وو، هغوئي به زياتره د الله پاک د وِېرې پهٔ وجه اوښکې توئيولې- يو ځل د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام او د حضرت يحیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د يو بل سره ملاقات وشو، حضرت يحیٰ عَلَيْهِ السَّلَام به د الله پاک نهٔ ډېر وېرېدلو، ځکه يې پهٔ مخ مبارک باندې د الله پاک د وېرې نخښې وې، بل خوا ورسره حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ډېر پهٔ مُسکا مېلاؤ شو-

فَاَوْحَى اللّٰهُ تَعَالٰى اِلَيْهِمَا اَنَّ اَحَبَّكُمَا اِلَىَّ اَبَشُّكُمَا لِصَاحِبِهٖ

ترجمه: الله پاک هغوئي ته وحي وفرمائيله: بے شکه پهٔ تاسو دواړو کښې زما زيات محبوب هغه دے کوم چې پهٔ ډېره خوشحالی (يعني پهٔ روڼ تندي) سره مېلاؤ شوے دے- (1)

ياد ساتئ چې حضرت يحیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هم ډېر د اوچتې مرتبې والا نبي دے، البته! حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نبي هم دے او رسول هم دے، د هغوئي مرتبه د حضرت يحیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نه اوچته ده-

## مُسکي کېدو له اهميت ورکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! نن سبا خلق مُسکي کېدو له ډېر اهميت نهٔ ورکوي، ډېر خلق

---

1...موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب مدارة الناس، جلد:7، صفحه:530، حديث:64 ملتقطاً-

د خپلې خوښې خاؤندان وي، که پهٔ يوه خبره مُسکا ورغله خو ورغله کنې سنجيده اوسي- وګورئ چې بعضې وخت قصداً مُسکې کېدل پکار وي- معاشره ده کنه؛ مونږ پهٔ معاشره کښې اوسيږو، د يو بل سره ميلاؤيږو، ناسته پاسته کوو نو مونږ له د مُسکې کېدلو عادت جوړول پکار دي- هسې که څهٔ لطيفه چا وه نهٔ کړه، د خندا څهٔ خبره وه نهٔ شوه نو څهٔ وشو--؟ د مسلمان ورور سره ملاقات وشو ❁ نو دا د مُسکې کېدلو خبره ده ❁ کور ته واپس رسېدل نصيب شول نو دا د مُسکې کېدلو خبره ده ❁ بچي ليدل مو نصيب شو نو دا د مُسکې کېدلو خبره ده ❁ د کور والؤ پهٔ خيريت سره ليدل نصيب شول نو دا د مُسکې کېدلو خبره ده- نو مُسکې شئ، دا سُنَّت دې، مونږ له به پهٔ خپل ځان کښې پهٔ زوره د دې عادت جوړول وي- ځکه مُسکې کېدلو له اهميت ورکړئ! رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا

ترجمه: يوه نيکي هم کمه مهٔ ګڼئ--!!

وَلَوْ اَنْ تُكَلِّمَ اَخَاكَ وَوَجْهُكَ اِلَيْهِ مُنْبَسِطٌ

ترجمه: اګر که ستاسو د خپل مسلمان ورور سره پهٔ مُسکا باندې خبره کول هم وي- (1)

وګورئ چې مونږ ته حُکم راکړے کيږي، دا چې کوم پهٔ مُسکې کېدلو ميلاؤيدل دي، پهٔ مُسکا خبرې کول دي، دا هم مونږ له سپک نهٔ دي ګڼل، دې له اهميت ورکول دي-

## د مُسکې کېدلو يو څو اهمې موقعې

❁ که مونږ د وړوکي ماشوم سره ولې نهٔ ميلاؤيږو نو د هغه سره چې هم پهٔ مُسکا ميلاؤ شو ❁ کور ته رارسېدلي يو نو د کور والؤ سره پهٔ مُسکا ميلاؤ شئ! ❁ د مور او پلار سره پهٔ

---

1...مسند امام احمد، مسند البصريين، حديث جابر بن سليم...الخ، جلد:8، صفحه:320، حديث:21175 ملتقطاً-

مُسکا مېلاؤ شو! هغوئي ته خو د محبت نه پۀ ډک نظر کتل هم د يو قبول شوي حج ثواب دے- ظاهره ده چې بيا د محبت نه ډک نظر خو د غصې نه پۀ ډک مخ سره نۀ شي کېدے، کله چې محبت راځي نو پۀ مخ باندې به مُسکا هم راشي ❀ د بچو د مور سره پۀ مُسکا مېلاؤ شئ! ❀ د دوستانو سره پۀ مُسکا مېلاؤ شئ! ❀ د مسلمانانو وروڼو سره پۀ مُسکا مېلاؤ شئ! ❀ غرض چې هر چرته هم يئ نو پۀ مخ باندې مُسکا راولئ!

## د نۀ مُسکي کېدلو موقعې

❀ آؤ که پۀ هديره کښې يئ، هلته مُسکي کېدل صحيح نۀ دي ❀ پۀ جنازه کښې مُسکي کېدل نۀ دي ❀ د غمرازئ پۀ وخت پۀ مخ باندې د غم اثار پکار دي ❀ د تپوس کولو پۀ وخت چې د موقعې پۀ مناسبت سره د مخ اثار وي ❀ که څوک د غم خبر راوړي نو هٔغه وخت پۀ مخ باندې د غم حالت پکار دے ❀ که څۀ سنجيده خبره کيږي نو هٔغه وخت سنجيده کېدل پکار دي، مُسکي کېدل نۀ دي پکار- غرض دا چې د تهذيب او د مروت چې کوم حدونه دي، پۀ هغې باندې هر عقلمند پوهېدے شي- پۀ کوم ځائے کښې چې مُسکي کېدل نۀ جوړېږي نو هلته مۀ مُسکي کېږئ! د دې نه علاوه پۀ نورو موقعو باندې خو مونږ له مُسکي کېدل پکار دي-

## پۀ کور کښې مُسکے کېدل هم سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ځينې خلق خو بهر د دوستانو سره ډېر پۀ خندا خوشحالۍ، پۀ کړس کړس خاندي او خبرې کوي خو چې کور ته راورسېږي نو هغوئي بالکل غلي شي يعنې بالکل سنجيده شي، پۀ مخ باندې يې هډو مُسکا نۀ وي- ځينې خلقو ته داسې ښکاري

چې سنجيدګي رُعب جوړوي- ورومبے خو وګورئ چې زمونږ پهٔ نورو باندې رُعب هم نهٔ دے پکار، محبت پکار دے، مينه پکار ده، ذوق پکار دے، اِحترام پکار دے- دويم دا چې د سنجيدګۍ د مُسکي کېدو يا نهٔ مُسکي کېدو سره هيڅ تعلق نشته- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مُسکے کېدلو، د دې نه زيات مونږ له د دې عمل د شه کېدو نور څهٔ سَنَد پکار دے---؟ د هغوئي اخلاقو ته الله پاک عظيم وئيلي دي:

وَ اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ﴿۴﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه تهٔ يقيناً پهٔ عظيمو اخلاقو يې-

(پاره:29، سورهٔ قَلَم:4)

سُبْحٰنَ الله! هغه د عظيمو اخلاقو والا نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مُسکے کېدلو نو مونږ له هم مُسکي کېدل پکار دي او پهٔ کور کښې هم مُسکي کېدل پکار دي- د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه اوکړے شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ کور کښې د اوسېدو انداز مبارک څهٔ وو؟ وه يې فرمائيل:

كَانَ اَكْرَمُ النَّاسِ خُلُقًا كَانَ ضَاحِكًا بَسَّامًا

ترجمه: خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (پهٔ کور کښې) ډېر د کريم اخلاقو والا، ډېر مُسکے کېدونکے وو- (1)

## پهٔ کور کښې امن راغلو

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې پهٔ کور کښې هم مُسکي کېدل پکار دي- د دې سره جنګونه

---

1...سبل الهدى، جماع ابواب صفاته المعنويه، الباب الثالث والعشرون...الخ، جلد:7، صفحه:121-

ختمېږي، د كورونو نه بےقلارى لرې كيږي- يوه واقعه بيانولے شي چې يو گَس وو، د كور د پرېشانو نه ډېر تنگ وو، هره ورځ به پهٔ كور كښې جنگ جگړې كېدلې، د وروړ د مور سره به يې هم نهٔ لګېدله- ډېر پرېشانه وو- يو ځل د يو بزرګ سره مېلاؤ شو- د خپل كور حالات يې ورته بيان كړل- هغه بزرګ وفرمائيل: ځويه! نن چې كله كور ته لاړ شې نو د دروازې برسېره كېدو سره مُسكے شه، پهٔ مُسكا خبرې اوكړه-

هغه گَس پهٔ دې نُسخه باندې عمل اوكړو- كور ته لاړو، دروازه يې وډبوله، د وروړ مور چې دروازه برسېره كړه نو دے يې پهٔ ليدلو مُسكے شو- د وروړ مور چې يې پهٔ مخ باندې مُسكا وليدله نو هغه هم خوشحاله شوه- او د دواړو جنګ جګړې ختمې شوې-

## د مُسكي كېدلو دُنيائي فائدې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هم پهٔ سُنَّت كښې عظمت دے- مُسكي كېدل سُنَّت دي، پهٔ دې كښې هم ډېر عظمت دے- د ډېرو طِبي، نفسياتي او معاشرتي تحقيقاتو مطابق د مُسكي كېدلو پهٔ بركت سره ❁ مُثبَت جذبې زياتېږي ❁ پهٔ ذِهني دباؤ كښې كمے راځي ❁ منفي جذبې كمېږي ❁ د كوليسټرولو پهٔ لېول باندې مُثبت اثرات پرېوځي ❁ د وِيني د نالو پهٔ پراخه كېدو كښې مرسته كيږي ❁ د درد زغملو طاقت زياتېږي ❁ پهٔ خوب كښې ښه والے راځي ❁ پهٔ بلډ پرېشر باندې ممكنه ښه اثرات پرېوځي ❁ د پړپوس كاركردګي ښه كيږي ❁ او ذِهني او جسماني دباؤ كمېږي ❁ معاشرتي امور ښه كېږي ❁ پهٔ اِعتماد جوړولو كښې مرسته كېږي ❁ د يو بل سره د مدد كولو اِمكانات زياتېږي ❁ همكاري پيدا كېږي ❁ اِنسان د معاشرتي مقبوليت لائق جوړېږي ❁ د يو بل ترمينځه مينه او وروروَلي زياتيږي ❁ محبت زياتيږي ❁ ماحول ښه اوسي ❁ د ښه تربيت ماحول جوړېږي ❁ پهٔ

صِله رحمی کنبې ورسره مدد کېږي ❁ ازدواجي رشته پهٔ اطمينان سره اوسي ❁ او د اِختلافاتو شدت کمېږي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! وګورئ چې د مُسکي کېدلو څومره فائدې دي- پهٔ مُسکا سره پهٔ مېلاؤېدو د بخښنې زيرے هم دے، جسماني، نفسياتي او معاشرتي فائدې هم دي نو ولې نهٔ چې مونږ د مُسکي کېدو عادت جوړ کړو- آؤ! د سُنَّت پهٔ نيت سره مُسکي شئ، د الله پاک د رضا موندلو پهٔ نيت سره مُسکي شئ، دُنيائي فائدې به ورسره هم مېلاؤ شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د ښه نيت پهٔ برکت به مو ثواب هم کېږي- الله پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ-

## د مذاق او مسخرو نه بچ اوسئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ اخره کنبې يوه خبره عرض کووم چې دلته نن سبا د مذاق او مسخرو يو ماحول جوړ دے- پهٔ سوشل مېډيا باندې خلق د ټوقو خندا والا خبرې کوي، شرارت او مستي کوي او پهٔ يو بل پورې ملنډې کوي او وائرل کوي يې- دا ښه خبره نهٔ ده- الله پاک پهٔ 26 سيپاره، د سورهٔ حُجُرَات پهٔ آيت نمبر 11 کنبې اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَ لَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! نارينه دې پهٔ نورو نارينؤ پورې نهٔ خاندي، کېدے شي چې هغوئي د هٔغه خندا کوونکو نه بهتر وي او نهٔ دې زنانه پهٔ نورو زنانؤ پورې

خاندي، کېدے شي چې هغوئي د هُغه خندا کوونکو نه بهترې وي-

د آيت مبارک پهٔ دې حصه کښې د دې خبرې تعليم را کړے شوے دے چې يو نارينه دې پهٔ بل نارينه او يوه زنانه دې پهٔ بلې زنانه پورې ملنډې مسخرې نهٔ کوي-

## پهٔ چا پورې د خندا کولو عذابونه

د الله پاک خوږ او اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: لَاتُمَارِاَخَاكَ وَلَاتُمَازِحْهُ د خپل وړور سره جګړه مهٔ کوه، مهٔ پهٔ هغه پسې خندا کوه- (1)

پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي: بے شکه پهٔ خلقو پسې د خندا کوونکي د پاره به د جَنَّت دروازه برسېره کړے شي، بيا به هغه راوبللے شي:چې راځه ! رانزدې شه--! کله چې هغه جَنَّت ته ورنزدې شي نو دروازه به بنده کړے شي، داسې به ډېر ځل کولے شي- (2)

آه! هُغه نادانه کوم چې د نورو د عزت خيال نهٔ ساتي، ملنډې کوي او نور ذليله کوي او خاندي او خوشحالې کوي، دا روايت بيا بيا ولولئ، پهٔ دې باندې غور اوکړئ، لږ سوچ خو اوکړئ--! هُغه د قيامت 50 زره کاله اوږده ورځ، د اوسپني سرهٔ شوې زمکه، نمر به وور وروي، هر طرف ته به د نفسي نفسي حالت وي، پهٔ داسې حالت کښې چې کله څوک د جَنَّت طرف ته وبللے شي، د هغه زړهٔ به څومره خوشحاله وي، هغه به پهٔ خپل قِسمت باندې رَشک کوي، د څومره اُميد سره به د جَنَّت طرف ته منډه کړي خو آه--! څنګه چې جَنَّت ته نزدې شي نو دروازه به بنده کړے شي، لږ سوچ خو اوکړئ چې هُغه وخت به څومره پښېمانتيا وي، د اُميدونو تولې ډېوې به يو دم مړې شي، خوشحالې کوونکے زړهٔ به ټوټې

---

1...ترمذی، کتاب البر والصلة، باب ماجاء فی المراة، صفحه:484، حديث:1995-

2...موسوعه ابن ابی الدنيا، کتاب ذم الغيبة والنميمه، باب ما نهی عنه العباد...الخ، جلد:4، صفحه:413، حديث:149 خلاصةً-

توتې شي- آه! دا ارمان، دا پښېمانتيا به ولې وي---؟ ځکه چې دې بد نصيبه به پهٔ دُنيا کښې پهٔ نورو پسې ملنډې کولې، د قيامت پهٔ ورځ به دهٔ له ډېره بده بدله ورکولے کيږي-

بھائیوں کادل دُکھانا چھوڑدو | اور تمسخر بھی اُڑانا چھوڑدو (1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## پهٔ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: مَدَني کورسز

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّت باندې د عمل کولو د جذبې موندلو، د سُنَّتو د زده کولو او ښودلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- د دعوتِ اِسلامي پهٔ ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د دِين او دُنيا بے شمېره خېرونه به مو نصيب شي- پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مَدَنی کورسز هم دے-

اَلْحَمْدُلِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي د دِين نُور تقسيموونکے ديني تنظيم دے ❀ کم از کم فرض عِلمِ دِين لکه د اودس، غسل، نـمونځ، جنازې، روژې، زکوٰة وغېره ضروري مسئلې خو دې هر مسلمان زده کړي، دعوتِ اِسلامي د دې اراده لري ❀ د دې مقصد د پاره دعوتِ اِسلامي ډېر شارټ کورسونه کوي، لکه ❀ د 7 ورځو فيضانِ نماز کورس ❀ طهارت کورس ❀ باطني طهارت کورس ❀ اخلاق مصطفي کورس ❀ عقيده ختم نبوت کورس- او نور هم

1...وسائلِ بخشش، صفحه:713-

ډېر کورسونه کولے شي-

تاسو هم دا مختصر کورسونه وکړئ ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر برکتونه به درنصیب شي ❀ چې دِین زده کړئ نو الله پاک به راضي شي ❀ پهٔ رزق کښې به مو برکت راشي ❀ د عِلمِ دِين خزانه به حاصله کړئ ❀ د نیکو ذِهن به مو جوړېږي ❀ د الله پاک عبادت چې پهٔ صحیح انداز اوکړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! کرم به هُم کیږي ❀ د شارټ کورسونو دا فائده هم وي چې انسان پهٔ غیر محسوس انداز کښې ډېر څهٔ زده کړي ❀ کار روزګار یـې هم نهٔ خرابېږي او پهٔ یو څو ورځو کښې ډېر معلومات حاصل شي ❀ لکه څنګه چې نـمونځ دے، د دې حکمونه او مسئلې څو دومره ډېرې دي چې کتابونه ترینه ډک دي، زمونږ پهٔ شان خلق به دومره غټ غټ کتابونه څنګه لولي؟ دومره وخت به څنګه اوباسي؟ څکه اسانه طریقه دا ده چې د 7 ورځو فیضانِ نماز کورس وکړئ، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د دې غټو غټو کتابونو نچوړ به درته شودلے کیږي ❀ بیا به مو دیني ماحول هم نصیب شي ❀ د نیکانو خلقو صحبت به مو هم نصیب شي، د دې خپل برکتونه دي-

## بے لارې شوے ځوي یـې د نیکۍ پهٔ لار روان شو

د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چې زمونږ د علاقې یو ځلمے کوم چې د مور پلار یو ځوي وو، د غلط صحبت پهٔ وجه پهٔ چرسو راواوړېدو، د کور نه بهر وخت تېرول د هغه معمول وو، چې له وجهې یـې د هغه مور پلار ډېر پرېشانه وو- یوه ورځ یو اِسلامي ورور هُغه ځلمے پوهه کړو او هغه ته یـې د 63 ورځو پهٔ مَدَني تربیتي کورس کښې د شرکت کولو ترغیب ورکړو، د خوش قِسمتۍ له وجهې هغه راضي شو او پهٔ تربیتي کورس کښې

یـې شرکت اوکړو-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! یو څو ورځې پس هٔغه ځلمي کور ته فون اوکړو چې پۀ تربیتي کورس کښې ډېره مزه محسوسووم، نور دا چې ما د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړې ده، اوس زۀ د جَمعې سره نـمونځونه ادا کووم، سُنَّت زده کووم او ما ته ډېر سکون حاصلیږي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مَدَني تربیتي کورس نه پۀ واپسۍ هغه واقعي چې ډېر بدل شوے وو- ږیره یـې پرېښودې وه او عمامه یـې پۀ سر کړې وه-

اِسلامي ورور مخکښې وائي چې د هٔغه ځلمي مور پۀ ژړا ژړا کښې د دعوتِ اِسلامي والوو ته دعاګانې کوې چې الله پاک دې دوئي سلامت لرې چې د دوئي پۀ کوششونو زما بے لارې شوے ځوې د نیکۍ لارې مسافر جوړ شو-

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا دِینی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا دِینی ماحول |
| اگر سُنَّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ | تم آجاؤ دیگا سکھا دِینی ماحول(1) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب     صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نعت کولیکشن (*Naat Collection*) موبائل ایپلي کېشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټیکنالوجي دور دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د جدید ټیکنالوجي پۀ ذریعه هم عِلم دِین عام کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کېشن جاري کړے

1…وسائلِ بخشش، صفحه:646-

شوے دے: د کوم نوم چې: ***Naat Collection*** (نعت کولیکشن) دے۔ ❀ پهٔ دې اېپ کښې د اعلیٰ حضرت، مولانا حامد رضا خان، مفتیِ اعظم هند، مولانا حسن رضا خان، مولانا جمیل الرحمان رضوي، مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم او د امیر اهلسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه کلامونه شامل کړے شوي دي ❀ پهٔ هره مجموعه کلام کښې کلامونه د حروف تهجي او ردیف پهٔ ترتیب سره کتلے شئ۔ د سرچ بار پهٔ ذریعه د خپلې خوښې کلام پهٔ اسانۍ سره لټولے شئ ❀ مختلف کلامونه پهٔ آډیو/وېډیو کښې اورېدے او فري ډاؤن لوډ کولے هم شئ ❀ د خپلې خوښې پهٔ کلام نخښه لګولے شئ او بیا بیا یې اورېدے شئ ❀ تاسو د خپلې خوښې کلام پهٔ **مائي کلیکشن** ***My Collection*** فیچر کښې محفوظ کولے شئ۔ کلام یا شعر کاپي کولے شئ او پهٔ واټس اېپ، فیس بک، ټویټر وغیره باندې یې شېئر کولے هم شئ۔ دا اېپ ېخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانونه

❀ **خورو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه پهٔ **مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقریباً پهٔ پاؤ کم نهه [8:45] بجې اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! هفته واره مدني مذاکره کېږي پهٔ کومه کښې چې به امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې

بچیله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې **دينې رسالې** لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د پيدل ګرځيدلو فائدې** اعلان کولے شي- دا رساله بچیله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس اپپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ❁ د مکـتبة الـمدينه د طرف نه د اخري نبي، صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په سيرت باندې مشتمل زبردست سيريز بکس (Seerat Series Books) پۀ نوم د "**بچوں کے پیارے نبی** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم" (12*Stories Books*) چاپ شوے دے. په دې کښې د ماشومانو د دلچسپئ د پاره د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم مبارک سيرت د واقعاتو په شکل کښې بيان شوی دی چې ماشومان پرې په اسانئ سره پوهه شي. دا (12*Stories Books*) تاسو د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه دا په 1000 روپئ په خپله هم حاصل کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

❁ **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د ستمبر مياشتې د نيک اعمال کارډونه د خپلې علاقې د نيک اعمال شعبې ذمه دار ته وسپارئ، او کومو اسلامي وروڼو چې په Naik amaal اپپ کښې اندراج کړے دے هغوی د سمرې تصوير خپل متعلقه ذمه دار ته جمع کړئ . د راروانې مياشتې د پاره د نيک اعمال رساله په 10 روپئ د مکـتبة الـمدينه نه حاصل کړئ، که ممکنه وي نو د ټول کال12 رسالې يوځائے واخلئ. الله پاک دې د عمل توفيق راکړي،

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** پۀ سُنَّت باندې پۀ عمل کولو کښې عظمت دے- د بيان پۀ اخره کښې پۀ سُنّتو باندې د عمل کولو د يو څو فضيلتونو او فائدو سعادت حاصلوو-

# پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کولو فضیلتونه او فائدې

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامین: (1): چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي۔ [1] (2): کوم کَس چې زما پهٔ اُمت کښې د فساد خوریدو (یعني د سُنَّتو نه د بے پروایۍ یا پهٔ سُنَّت باندې پهٔ عمل کوونکو پورې د ملنډو کولو [2]) پهٔ وخت زما پهٔ سُنَّت باندې عمل اوکړي هغه ته به د 100 شهیدانو ثواب میلاؤیږي۔ [3]

وئیلے شي او که چرې همیش والے د عادت پهٔ توګه وي نو هغې ته سُنَّتِ غیر مؤکده وئیلے شي۔ [4]

❁ پهٔ سُنَّت باندې عمل جَنَّت ته د داخِلیدو سبب دے [5] ❁ پهٔ سُنَّت باندې عمل کوونکو ته پهٔ حدیث مبارک کښې د هدایت یافته کیدلو زیرے ورکړے شوے دے۔ [6] ❁ د نیکانو خلقو پیژندګلو دا ده چې د خپل نبي عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ سُنَّت باندې عمل کوي۔ [7] ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّت باندې عمل

---

1...مصابیح السنة،کتاب الایمان، باب الاعتصام بالکتاب والسنة، جلد:1، صفحه:162، حدیث:138۔

2...بهشت کی کنجیاں،، صفحه:50۔

3...الزہد الکبیر لبیہقی، صفحه:118، حدیث:207۔

4...کتاب التعریفات، ص، دار النفائس بیروت۔

5...مستدرك،کتاب الاطعمة، باب ذکر معیشة النبی ، جلد:5، صفحه:142، حدیث:7155 ماخوذاً۔

6...السنة لابن ابي عاصم ، جلد:1، صفحه:68، حدیث:51 خلاصةً۔

7...موطاامام مالک بروایة یحیی، کتاب القدر، باب النهی بالقول بالقدر، صفحه:479، حدیث:1708 ماخوذاً۔

کوونکي خوش قِسمته خلق د ګمراهۍ نه محفوظ اوسي (1) ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّت سره محبت کوونکے به پهٔ جَنَّت کښې اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره پهٔ ګاؤنډ کښې وي۔ (2)

**پهٔ سُنَّت باندې د عمل کولو نقصانونه:** ❁ پهٔ سُنَّت باندې عمل نهٔ کوونکے به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت نه محرومه وي (3) ❁ سُنَّت مبارک پرېښودل د ګمراهۍ سبب دے (4) ❁ د سُنَّت پرېښودونکي د زړهٔ د مړ کېدو خطره ده (5) ❁ د سُنَّت مبارک مخالفت نا شُکري ده (6) ❁ د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّت باندې عمل نهٔ کوونکے به پهٔ هلاکت کښې اخته کېږي۔ (7)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم

---

1...موطاامام مالک، کتاب القدر، باب النهی بالقول بالقدر، ص، حديث:۰۔
2...مصابيح السنة،کتاب الايمان، باب الاعتصام بالکتاب والسنة، جلد:1، صفحه:162، حديث:138 ماخوذاً۔
3...تفسير روح البيان، پ، النساء، تحت الآية:، /۔
4...مسلم، کتاب المساجد و مواضع، باب صلاة الجماعة من سنن الهدی، ص، حديث:۔
5...احياء العلوم، کتاب شرح عجائب القلب، بيان تسلط الشيطان علی القلب...الخ، /، ملخصًا۔
6...مصنف عبدالرزاق، کتاب الصلاة، باب الصلاة فی السفر، /، حديث:۔
7...صحيح ابن خزيمه، کتاب الصيام، باب استحباب صوم...الخ، ص، حديث:۰ ماخوذاً۔

دے۔

| | |
|---|---|
| سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو (1) |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...وسائل بخشش، صفحه:670۔